سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۰/۰۷

# ناپوهې

زمـا د زړه دنیـا، زمـا سـاده  آشـنا ورانـوي
ولـی آشـنا د بل آشـنا، د زړه دنیا ورانـوي

که رقیبان یی ورانـوي، ځای د ګیلې نشـته دی
خود زغم نه ده چي جونـګړه دی پرتا ورانوي

که غلیم خپله ستا د کور ورانې ته نیت کړی وی
څـه پـروا نشـته ، بده داچی یی پر تا ورانوی

ته چی د خپل کلی او ولس د پاره غم جوړیږی
شـکایت مکړه که دی خـونه، بل پاچا ورانـوی

د کورانګړ کی چی د مینې په ځای کرکه کښینی
هـم دی اوبـه او هـم دی وچـه، هـم هـوا ورانوی

ته چی دی خپله مور بازار کی په متروکو وهی
زما کلـیواله ! ناپـوهی، درنـه عــقبا ورانــوی

سپتمبر/۲۰۲۱/۲۸
تورنتو - کانادا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید